محمدانور آخڼر 2017 /2 /2

اتلان پېژنی؟

يوولسمه برخه

احمدشاه مسعود او د قاچاقو سوداګري(قاچاقبري)

هغه مختلف توکي چې د دولتونو لخوا د بېلا بېلو عواملو له امله يې وړل راول يا کارول منع شوي وي، حتمي ده چې هغه ممانع د اړونده هيوادونو د خلکو او په ځينو برخو کې د نړيوالو په ګټه دي، خو سره له دې بيا هم يو څوک چې په پټه يا د زور له لارې د خپلو شخصي ګټو لپاره په غيرقانوني توګه، د منع شويو توکو سوداګري کوي قاچاق بلل کيږي.

په نړۍ کې د قاچاقو کاروبار عموماً د مافيايي باندونو، بدماشانو، ياغي او ترهګرو ډلو تپلو لخوا ترسره کيږي، هغه خلک چې د خپل هيواد يا بين المللي قوانيو ته احترام نه لري د قاچاق کاروبار کوي. د ۱۹/ ميلادي پېړۍ په وروستيو دوو لسيزو کې د منع شوو توکو لکه: قيمتي ډبرې، لرغوني او تاريخي اثار، نشه يي توکي په ځانګړي توګه د هيروينو قاچاق په زياته کچه له افغانستان څخه ګاونډيو او آروپايي هيوادونو ته د ځينو تنظيمي قوماندانانو لخوا د نړيوالو مافيايي باندونو سره په همغږۍ ترسره شوي دي، چې له دغو ډلو تپلو څخه يو هم د احمدشاه مسعود ډله ده.

په ۱۳۷۷،ل،ل کال هغه مهال چې زه (ليکوال) او نور کسان چې د تاجکستان د دوشنبې له ښار څخه اروپا ته د قاچاقبرو له خوا په قاچاقي ګاډو کې لېږدول کيدلو، څو ځايه مو په خپلو سترګو وليدل چې د مخدره توکو کڅوړې به له هغو موټرو څخه چې موږ سفر په کې کولو، له يوه موټر څخه بل ته سپارل کيدلې، موږ څو کسان ښه پوهيدلو چې په کڅوړو کې نشه يي توکي دي خو بيا هم زموږ يو تن ملګري له هغه تاجيکي قاچاقبر، چې مسکو ته زموږ د رسولو مسؤليت يې درلودلو پوښتنه وکړه چې دا څه ډول توکي دي چې په دومره منظمه توګه يو بل ته سپارل کيږي؟ هغه وويل: دا تريياک او يوه اندازه هيروئين دي، دا ټول ستاسو له افغانستان څخه راځي، خو ډېر يې له هغو سيمو څخه په اسانۍ سره راوړل کيږي چې د قوماندان مسعود په لاس کې دي. دا خو زما د سترګو ليدلی حال ؤ، خو امريکايي پياوړی ليکوال ښاغلی ستيوکول يې په اړه څه وايي؟:«مسعود مجبور ؤ چې پيسې او وسلې ومومي، د پنجشېر په پټنځای کې يې نغدې پيسې لرلې، چې د لوړ بيه ډبرو د ايستلو او مخدره موادو د قاچاق له لارې يې غونډې کړې وي، د مسعود مليشې د مرکزي آسيا له لارې روسيې ته د هيروينو قاچاق کاوه، هغوی د امريکا د لاسويګاس په شان د نړۍ په لر واټنه لوړه بيه ډبرو او غميو په نندارتونونو کې لاجورد او زمرد پلورل.»(۱)

نوموړی ليکوال وړاندې ځي وايي«په افغانستان کې د ننه د (۱۹۹۹. م کال) په دوبې کې يواځې يو مشر(مسعود) ؤ چې د طالبانو، ابن لادن او د هغوی د نړيوالو اسلامپالو متحدينو پر خلاف يې جګړه روانه ساتلې وه او د هغوی په اړه يې شپه او ورځ څارګريز معلومات راټولول، د نوموړي

افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ magalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ناندریز حکومت، چې نه واقعي پلازمینه، نه هوایي ډګر او نه یې اعتبار درلود، بودیجه یې له یوې اونۍ څخه بلې ته، تر یوې کچې پورې د هیروینو(پوډرو) له قاچاق څخه پیدا کوله... .»(۲)

د مسعود په قاچاقبریو او نورو ترهګریزو کړنو باندې د امریکا دولت د (سي، آی، اې) اداره ښه خبره وه، خو بیا هم له ده څخه یې پلوي کوله، په اصل کې د استخباراتو همدا ډول پالیسي ده چې د اجنټانو څخه د ښه کار اخستلو په بدل کې د دوی له ځینو ناروا کړنو څخه ملاتړ کوي، لیکوال ستیوکول یې په اړه وایي:« ... د سپینې ماڼۍ د بهرنیو چارو د وزارت مامورینو د (۱۹۹۰. م) کلنو په نیمایي کې د کابل ښاریانو پر خلاف هغه تشدد په یاد ؤ، کله چې مسعود د دفاع وزیر ؤ او د هیروینو پر قاچاق یې د نوموړي د ډاډ په اړه پرله پسې رپوټونو ته ګوته نیوله.» (دپیریانو جګړې،۶۷۰مخ)

ستیوکو د مطلب په دوام کې زیاتوي:« د سي آی اې د مخدره توکو ضد مرکز رپوټ ورکړ چې د مسعود سړیو اروپا ته په ستره اندازه د اپینو قاچاق ته دوام ورکاوه، بریتانویانو هم ورته رپوټونه لرل، هغوی ټولو(له مسعود سره د ګډو) عملیاتو د بربنډ کیدو په صورت کې د ورځپاڼو سرلیکونه انځورولی شول **(سي آی اې د افغان اپینو سالار ملاتړ کوي)**، په پروسه کې د ګډونوال یو امریکایي مامور پر وینا د ترهګرۍ ضد مرکز په نظر د امریکا لپاره د مسعود ستراتیژیک غوره والي ته، اهمیت ورنه کړل شو، ډیر غاښ چیچي تشویش، کوټ کوټي او لاس تاوول روان وو.»(۳) «د امریکا متحده ایالاتو د ملي امنیت کابینې غونډه وکړه، له کلارک څخه پرته د سي آی اې له پټو عملیاتو سره د بل چا ملاتړ نه ؤ، د کابینې غړیو پر زړو نیوکو برسیره نوي نیوکې هم لرلې، مسعود د مخدره موادو قاچاق وړونکی ؤ، که چیرې سي آی اې په پنجشېر کې یوه دائمي اډه جوړه کړي وای نو د هیروینو په تجارت کې به یې د جنجال خطر پر غاړه اخیستی.» (ستیو کول، دپیریانو جګړې،۷۸۵مخ)

نه یوازې دا چې مسعود نشه یې توکي قاچاق کول، بلکه د هیواد ملي شتمني(لاجورد او زمرد) یې په لویه پیمانه د خارجیانو په همکارۍ قاچاق کړي دي. «... په دغه وخت کې د فرانسوي ژورنالیستانو له خوا د زمردو سوداګران راتشویق شول او د فرانسویانو پر لاس، د پنجشېر د زمرودو استخراج پیل شو، چې د هغو له قیمت څخه، مسعود د جنګ لپاره په خلاص لاس پیسې مصرفولې.»(۴) «د مسعود ډلې د زمردو او لاجوردو په پیسو باندې د نورو د واکمنۍ د مخنیوي له پاره ډېر کسان ترور کړل.» (جنرال رحمت الله صافي: مسعود پېژنې؟۳۰مخ)

او په افغانستان کې د پخواني شوروي اتحاد د څلوېښتم لښکر قوماندان د مسعود لخوا د ملي شتمنۍ د قاچاق یادونه کړي هم کړي ده: «له احمدشاه سره زیاته مرسته د ده تر کنټرول لاندې، په شمالي پنجشېر کې د لاجورد او نورو ډېرو قیمتي ډبرو، بې شمېره کانونو شته والي هم کړي ده، په دغو کانونو کې کارونه جاري وو او دغه بې شمېره قیمتي ډبرې بهر ته لېږدول کیدې.» (بوریس ګرومؤف؛ سرې لښکرې په افغانستان کې، ۲۶۲، مخ)

د مسعود کورنۍ د لاجوردو او زمردو په قاچاق او سوداګرۍ کې لاس لرل او له یو بل تن داود میر(چې په فرانسه کې به د افغان سفارت کارکوونکی وو) د زمردو د خرڅلاو په سر د جنجال له امله د آئیني مجلې داسې راپور خپور کړ: «د آئیني مجلې په ۷۲، ګڼه کې ریښتینی خبر: څو ورځې مخکې د احمدشاه مسعود ورور ولي مسعود ۶۰/ کیلو ښه زمرد له لندن نه پاریس ته وړي دي، ځکه

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالېږلو مخکې په ځیر و لولئ

چې هلته بازار ښه ؤ او یو بل د زمردو پلورونکی داود میر ؤ، چې پنځه کیلو زمرد یې وپلورل او نرخ راکوز شو، داؤد میر وویل چې[نوربه] څه موده وروسته خرڅ کړو، له کانادا نه یې خپل ورور راوغوښت او (۵۵) کیلو زمرد یې کانادا ته وتښتول.

[د زمردو د خرڅولو په معامله کې] د ولي مسعود له جګړې او ماتې نه وروسته، مسعود د فرانسې جاسوسي څانګې ته وویل چې پر سفارت بریښنا او اوبه بندې کړي اوس د داود میر په سترګو تیاره، خو په زړه کې یې د زمردو رڼا ده.» (جنرال رحمت الله صافی: مسعود پېژنی؟، ۴۶مخ)

مسعود د کابل له موزیم څخه ډېر شمېر ارزښناکه تاریخي اثار غلا کړي او بیا یې خارج ته قاچاق کړل:«مسعود برعکس د ګلبدین، یو ازاد او عیاش سړی دی، وایي چې د کابل موزیم څخه یې د سکندر جام وړی دی او په هغه کې[د ویاړ لپاره] اوبه څښي ... .» (کاندید اکاډمیسین محمدابراهیم عطایي: دافغانستان پر معاصرتاریخ یوه لنډه کتنه، ۳۷۸مخ)

کله چې د نظار شورا په ۱۹۹۶،میلادي کې له کابل څخه په منډه ځانونه خلاص کړل، د افغانستان بانک له ځمکنیو خونو(زیرزمینی) څخه یې ډېر ارزښتناک تاریخي توکې له ځان سره پنچشېر ته یوړل او د وخت په تېریدو یې بهر ته ورسول او هلته یې وپلورل. http://homayun.org

د وزیرمحمداکبر خان هغه تفنګچه چې یرغلګر انګریز مکناټن یې پرې وژلې ؤ او د کابل په موزیم کې ساتل کیدله د مسعود د مشر برهان الدین رباني لخوا د افغانستان ریښتني دښمن پنجابي نواز شریف چې په هغه وخت کې د پاکستان صدراعظم ؤ ډالۍ شوه.

د مسعود ډلې د کابل موزیم، ملي ارشیف او نورو ځایونو څخه بې شمېره ارزښتناک تاریخي توکي، اسناد او... پنجشر او بیا د تاجکستان د کولاب ښار ته وړي دي چې تر اوسه پورې ورک دي. د ډېرو مالوماتو لپاره د اکاډمیسین محمداعظم سیستاني لیکنه ولولئ:(سرنوشت آن هفت هزار نسخه خطي از آرشیف ملي و موزیم کابل آخر چه شد؟)

نور بیا

۱- ستیوکول، دپیریانو جګړې،۵۰۰مخ.

۲- پورتنی کتاب،۶۶۴مخ.

۳- پورتنی کتاب،۷۵۹مخ.

۴- کاندید اکاډمیسین محمدابراهیم عطایي: د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۳۷۷مخ.

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ